مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۴** (از ۷ الی ۱۴ قوس ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........................................ ۲

### افغان-پاک اړیکې؛ د ژبې له ډیپلوماسۍ د سولې تر پروسې

- پښتو او پښتانه؛ د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ډیپلوماسۍ عنصر ........................................ ۴
- په بهرني سياست کې د «پښتو» کارد ........................................ ۵
- کابل ته د پاکستان د پښتنو مشرانو سفر ........................................ ٦
- په پاريس کې د اشرف غني او نوازشريف کتنه ........................................ ۷
- پاک-افغان اړيکې؛ په کوم لور؟ ........................................ ۸

### تغییر اقلیم؛ گرما زمین را به کجا خواهد برد؟

- دلایل گرم شدن زمین و تاثیرات آن بر محیط زیست ........................................ ۹
- عکس العمل زمین ........................................ ۱۰
- پیمان کیوتو ........................................ ۱۰
- امریکا، مسؤول اما مسؤولیت‌ناپذیر ........................................ ۱۱
- تاثیر تغییر اقلیم بر افغانستان ........................................ ۱۲

## مقدمه

له څه موده راهیسې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو بیارغولو او افغان سولې بهیر د بیاپیلولو لپاره، هلې ځلې روانې دي. دا ځل د "ژبې ډیپلوماسی" په مرسته د دوه‌اړخیزو اړیکو د رغولو او د افغان سولې په ټپه درېدلي بهیر بیاپیلولو هڅه وشوه. څو ورځې وړاندې د پاکستان یو شمېر پښتنو مشرانو کابل ته سفر درلود او په پاریس کې د دواړو مشرانو د کتنې لپاره د زمینې برابرولو لپاره یې، د نوازشریف پیغام هم له ځان سره درلود. له همدې ځایه، د دواړو هېوادونو مشرانو په پاریس کې د اقلیمي بدلون په نړیوال کنفرانس کې سره وکتل او پر دوه‌اړخیزو اړیکو او د سولې پروسې په اړه یې خبرې وکړې. دا چې د کابل-اسلام‌آباد اړیکې په کوم لوري روانې دي او وروستی هلې ځلې به د دغو اړیکو په بیا رغولو او د سولې د درېدلي بهیر پر بیاپیلولو څه اغېزې وکړي، د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې یې لولئ.

د تحلیل په دویمه برخه کې، په نړۍ کې د اقلیم د بدلون په اړه د پاریس د نړیوال کنفرانس په اړه لولئ. د ۱۵۰ هېوادونو او لسګونو سازمانونو مشران تېره اوونۍ په پاریس کې سره جرګه شوي وو، ترڅو د ځمکې د تودوخې د مخنیوي په موخه یوې هوکړې ته سره ورسېږي. د نړۍ په کچه، په تېرو ۱۰۰ کلونو کې د ځمکې د سطحې تودوخه نژدې ۰٫۸۵ سانتیګراده (۱.۴ فارنهایټ) ډېره شوې ده. په افغانستان کې هم د تودوخې کچه له ۱۹٦۰ میلادي کال راهیسې په متوسط ډول ۰.٦ سانتیګراده لوړه تللې ده او څېړنې ښیي، چې د پسرلي په موسم کې د اورښتونو کچه هم کابو ۴۰ ملي متره راکمه شوې ده.

دغه کنفرانس ته، چې د "COP21 " په نوم یادېږي، د نړۍ د سترو هېوادونو، لکه امریکا، روسیې، چین او هند مشرانو هم ویناوې وکړې او د اقلیم د بدلون په اړه یې په ګډ نړیوال کار ټینګار وکړ. د افغانستان ولسمشر اشرف غني هم دغه کنفرانس ته په خپله وینا کې په دې تړاو د افغانستان غوښتنې او دریځ روښانه کړ. پوښتنه دا ده، چې د ځمکې اقلیم ولې او څرنګه د بدلون په حال کې دی؛ په دې اړه وړاندوینې څه دي او په افغانستان به د ځمکې د  تودوخې اغېزې څومره وي؟

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# افغان-پاک اړیکې؛ د ژبې له ډيپلوماسۍ د سولې تر پروسې



افغان ولسمشر اشرف غني او د پاکستان لومړي وزير نوازشريف، تېره اوونۍ په پاريس کې د اقليمي بدلون په تړاو جوړ شوي نړيوال کنفرانس کې سره وليدل. له دغې کتنې وړاندې دواړو مشرانو د برېتانيا له لومړي وزير سره په يوه درېاړخيزه ناسته کې هم کتلي وو. په دغو دواړو ناستو کې پاکستاني لوري له طالبانو سره د سولې او بيا پخلاينې د بهير پر بيا پيلولو خبرې وکړې.

له دغې کتنې پنځه ورځې وړاندې کابل ته د پاکستاني پښتنو ګوندونو مشرانو درې ورځنی سفر درلود. که څه هم دغه پاکستانی پلاوی د افغان ولسمشر په بلنه راغلی و؛ خو دوی د نوازشريف پيغام هم له ځان سره راوړی و او ولسمشر غني يې وهڅاوه چې د پاکستان له لومړي وزير سره په پاريس کې وګوري.

دا په داسې حال کې دي، چې د ملا محمد عمر د مړينې له اعلان وروسته، کله چې د افغان سولې بهير په ټپه ودرېد، پاکستان په ټينګار سره د سولې پروسې د بيا پيلولو په اړه څرګندونې وکړې او په دې اړه سيمه‌ييزه

ډیپلوماسي هم فعاله شوه (په دې اړه نور معلومات ولولئ، د تحلیل هفتې په ۱۴۲مه ګڼه کې) دغو لاملونو یو ځل بیا د پاکستان او افغانستان ترمنځ د مخامخ خبرو چانس برابر کړ.

دا چې د اشرف غني او نوازشریف ترمنځ وروستۍ دوې ناستې به د پاکستان او افغانستان پر اړیکو څه اغېزه وښندي او د سولې پروسې په بیا پیلولو کې به څه رول ولوبوي، د تحلیل هفتې په دې ګڼه کې یې لولئ.

## پښتو او پښتانه؛ د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ډیپلوماسۍ عنصر

دا لومړی ځل نه دی، چې کابل او اسلامآباد په خپل بهرني سیاست کې د «پښتو» کارد استعمالوي؛ له دې مخکې هم کابل او اسلامآباد دغه کارد د سړې جګړې پرمهال او وروسته بیا د حامد کرزي په دوره کې هم استعمال کړی دی.

د سړې جګړې پرمهال تر ډېرو کلونو پورې د پاکستان پښتانه مشران په افغانستان کې دېره وو، له همدې کبله د پاکستان له پښتنو څخه د کابل ملاتړ او د پښتونستان قضیه د افغانستان د بهرني سیاست مهم عنصرونه وو. همدا راز پاکستان هم د افغانستان یو شمېر افغان پښتنو ته په خپله خاوره کې ځای ورکړی و او له دوی څخه یې ملاتړ اړین باله. همدې چارې تر ډېره د کابل-اسلامآباد پر اړیکو اغېزه وښندله.

وروسته د حامد کرزي په دوره کې هم کابل څو ځله د پاکستان پښتانه مشران راوبلل او په ۲۰۰۷ کال کې یې د پاکستان او افغانستان د پولو دواړو خواوو د مشرانو یوه ګډه لویه جرګه هم راوغوښته، چې موخه یې د پاکستان او افغانستان اړیکې ښه کول او د ډیورنډ کرښې دواړو خواو وسله‌وال مخالفتونه کرارول وو. دغه جرګه، چې د افغانستان او پاکستان شاوخوا ۷۰۰ مشرانو پکې ګډون کړی و، په خپل نوعیت کې لومړۍ هڅه وه، چې د دواړو خواوو مشرانو پکې په رسمي توګه برخه اخیستې وه. دغې جرګې یو ۵۰ کسیز کمیسون جوړ کړ، څو د سولې پروسې په اړه خپلې طرحې وړاندې کړي. خو دغه جرګه هم ناکامه شوه؛ ځکه نه ورته افغان طالبان راغوښتل شوي وو او نه هم د آزادو قبایلو مشران.

په دغه جرګه کې پاکستاني مشرانو هم برخه اخیستې وه او د جرګې په پای‌غونډه کې د پاکستان پخواني لومړي وزیر جنرال پرویز مشرف هم ونډه واخیسته.

اشرف غني هم له ولسمشر کېدو وروسته، پاکستان ته د سفر پرمهال د یو شمېر پاکستاني ګوندونو مشرانو ته، کابل ته د ورتګ رسمي بلنې ورکړې، چې له همدې کبله د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په میاشت کې د پاکستان پښتانه قومپالي مشران کابل ته په یوه سفر راغلل[1]. اوس یو ځل بیا افغان ولسمشر اشرف غني د پاکستان د پښتنو سیاسي ګوندونو مشران په رسمي توګه او داسې مهال کابل ته راغواړي، چې د کابل-اسلامآباد اړیکې په تېر یوه کلن پړاو کې د هر وخت په پرتله ډېرې خرابې شوې دي.

## په بهرني سیاست کې د «پښتو» کارد

د سرې جګړې پرمهال افغانستان او پاکستان په خپلو هېوادونو کې د یو بل ضد عنصرونو ته ځای ورکړی و؛ خو له سړې جګړې وروسته، دواړو کابل او اسلامآباد د اړیکو ښه کولو په اړه د پښتو کارد استعمال کړ. په دې تړاو د دواړو لوریو له خوا د پښتنو پلاوي د یو بل پلازمېنو ته سفرونه وکړل، څو د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې ښې کړي.

د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ په میاشت کې کابل ته د پښتنو مشرانو راتګ د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت یو شمېر ډیپلوماتان هم خوشباوره کړي وو. ځکه د دوی په اند، د همدې ګډې ژبې په مرسته دوی کولای شي د افغانستان-پاکستان ترمنځ نه یوازې دا چې د بېباورۍ فضا ختمه کړي، بلکې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو په رغولو کې هم ترې کار اخېستلی شي[2]. پاکستان دا ځل هم هڅه وکړه، چې د پښتنو مشرانو له لارې داسې مهال د اړیکو رغولو هڅه وکړي، چې له څه مودې راهیسې د سولې پروسې د بیا پیلولو او دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو رغولو، هلې ځلې کوي.

[1] د نورو معلوماتو لپاره ولولئ، د اوونۍ تحلیل ۱۰۰مه ګڼه، ۲۷ جدی ۱۳۹۳ هـ ش: »د ژبې ډیپلوماسي؛ د اړیکو رغولو په اړه د کابل-اسلامآباد هڅه«

[2] وګورئ، په آنلاین بڼه: InamullahKhattack, Pakistan launches Pashto Diplomacy to woo Kabul, The Nation, 11 Jan 2015, see it online: <http://nation.com.pk/national/11-Jan-2015/pakistan-launches-pashto-diplomacy-to-woo-kabul>

## کابل ته د پاکستان د پښتنو مشرانو سفر

څو ورځې وړاندې (د ۲۰۱۵ کال د نوامبر په ۲۵مه) د پاکستان د دریو قومي گوندونو یو لس کسیز پلاوی، د افغان ولسمشر په بلنه کابل ته په درې ورځني سفر راغی. په دغه لس کسیز پلاوي کې د پاکستان د عوامي گوند مشر اسفندیار ولي خان، افراسیاب خټک، ډاکټر سلیم خان (د افضل خان لالا زوی)، د پښتونخوا ملي عوامي گوند مشر محمود خان اڅکزی، د قومي وطن گوند مشر افتاب شېرپاو، د خیبر پښتونخوا پخوانی والي شوکت الله خان، په افغانستان کې د پاکستان پخوانی سفیر ایاز وزیر او یو شمېر نور کسان شامل وو. دغه پلاوي په کابل کې د افضل خان لالا په یاد جوړ شوي سیمینار کې هم برخه واخیسته؛ خو په ټوله کې د دغه سفر موخه د کابل او اسلام‌آباد ترمنځ د اړیکو رغول وو.

په سیاسي توگه د دغه پلاوي سفر د لاندې لاملونو له کبله د پاکستان لپاره ډېر ارزښت درلود:

**لومړی:** د کابل-اسلام‌آباد اړیکې د ملي وحدت د حکومت له جوړېدو راوروسته، د بل هر وخت په پرتله خرابې شوې دي.

**دویم:** کابل له تېرې میاشتې راهیسې په دې هڅه کې دی، چې له نوي ډهلي سره خپلې اړیکې تازه کړي. په دې تړاو د افغانستان د ملي امنیت سلاکار وزیر حنیف اتمر هند ته په یوه رسمي سفر ولاړ او د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت مرستیال حکمت خلیل کرزي هم هند ته سفر وکړ. دواړو له هند څخه په نظامي ډگر کې د مرستو او دوه‌اړخیز ستراتېژیک تړون د عملي کولو غوښتنې وکړې.

**دریم:** دغه سفر له دې کبله هم ارزښت درلود، چې په پاریس کې له نوازشریف سره د افغان ولسمشر لیدنې ته زمینه برابره کړې او پاکستان بیا د همدغه چانس پرمټ په روانه میاشت کې په اسلام‌آباد کې د استانبول پروسې د آسیا زړه په کنفرانس کې د افغانستان د جگړې چارواکو شتون یقیني کړي؛ ځکه که چېرې په دغه کنفرانس کې افغان جگړې چارواکي ونه‌ وانه‌خلي نو دا به پر پاکستان ډېره منفي اغېزه وکړي.

## په پاریس کې د اشرف غني او نوازشریف کتنه

د پاکستان قومي ګوندونو مشرانو له ځان سره د پاکستان د لومړي وزیر نواز شریف پیغام راوړی و او له افغان ولسمشر اشرف غني څخه یې غوښتي وو، چې په پاریس کې د اقلیمي بدلون د نړیوال کنفرانس په یوه څنډه کې ورسره وګوري. د افغان چارواکو په اند، له دغه پیغام وړاندې د افغان ولسمشر په اجنډا کې د پاکستان له ولسمشر سره کتنه شامله نه وه؛ خو دغه کتنه کابل ته د پښتنو مشرانو له راتګ وروسته، د افغان ولسمشر د اجنډا برخه وګرځېده.

د ۲۰۱۵ کال د نوامبر په ۳۰مه د دواړو ولسمشرانو له کتنې وړاندې د پاکستان، افغانستان او بریتانیا ولسمشرانو په یوه درې اړخیزه ناسته کې سره ولیدل. له دغې درې اړخیزې ناستې وروسته افغان ولسمشر اشرف غني او د پاکستان لومړي وزیر نوازشریف په یوه دوه‌اړخیزه ناسته کې هم د دواړو هېوادونو د اړیکو په اړه خبرې وکړې. په دغو خبرو کې د «سولې او بیا پخلاینې د بهیر پر بیا پیلولو هم خبرې وشوې»[3]. د پاکستان لومړي وزیر د دغې ناستې تفصیلات په یوه بیانیه کې خپاره کړل، چې مهم ټکي یې په لاندې ډول وو:

- دواړو مشرانو موافقه وکړه، چې دواړه لوري به له هر هغه چا سره کار کوي، چې د مشروع سیاسي لوبغاړي په توګه په دغه بهیر کې ورګډېږي. پاکستان به له افغان حکومت سره په ګډه د هغو خلکو پر ضد درېږي، چې سوله نه غواړي؛
- پاکستان باور لري، چې امریکا او چین چې د «مري» په مذاکراتو کې یې هم ونډه اخېستې وه، د سولې په پروسه کې مهم شریکان دي او همدا راز د نورو ملګرو ځواکونو له مرستو هم ملاتړ کوي. پاکستان به د سولې په پروسه کې له یوه څلور اړخیز ابتکار څخه هم هرکلی وکړي. په همدې موخه د اسیا زړه استانبول پروسې راتلونکې غونډه چې په اسلام‌آباد کې به د ۲۰۱۵ کال د ډیسمبر په ۹مه جوړېږي، په افغانستان کې د یوې پایله لرونکې پخلاینې پروسې د طرحې وړاندې کولو موقع ورکړي؛
- زه، اسلام‌آباد ته د اشرف غني سفر ته سترګې په لاره یم، څو په ګډه د اسیا زړه پروسې غونډه پرانیزو او په یوه څنډه کې یې په دې بحث وکړو، چې څرنګه پاکستان، افغانستان، امریکا او چین په ګډه سره د سولې پروسې پر بیا پیلولو کار پیل کړي، چې د ۲۰۱۵ کال په جولای میاشت کې تم شوې وه؛
- پاکستان غواړي چې له افغانستان سره په سیاسي، ډیپلوماتیک، نظامي او استخباراتي کچه همکارۍ زیاتې کړي او د تروریزم پرضد ګډه مبارزه وکړي[4].

---

[3] وګورئ، په آنلاین بڼه: http://www.pmo.gov.pk/press_release_detailes.php?pr_id=1259

[4] د پاکستان د لومړي وزیر د بشپړې اعلامیې لوستلو لپاره، وګورئ: http://www.mofa.gov.pk/pr-details.php?mm=MzI5OA„

## پاک-افغان اړیکې؛ په کوم لور؟

د افغانستان او پاکستان ۷۰ کلنې اړیکې له ډېرو لوړو-ژورو تېرې شوې دي؛ خو په دغو دوه اړخیزو اړیکو بې‌باورویو ډېر منفي سیوری غوړولی دی. د ملي وحدت حکومت له تشکیل وروسته د افغانستان او پاکستان اړیکې په بې‌سابقه ډول ښې شوې؛ خو په افغانستان کې د ناامنیو له زیاتېدو او د سولې پروسې له تم کېدو سره دغه اړیکې بیا د بې‌باوریو ښکار شوې. دا چې پاکستان د ژبې ډیپلوماسۍ او د پښتون کارډ په استعمالولو سره یو ځل بیا له افغان ولسمشر اشرف غني سره د پاریس د نړیوال کنفرانس په څنډو کې ولیدل او ده ته یې د اسیا زړه-استانبول پروسې غونډې ته د ورتګ بلنه ورکړه، نو دغې هڅې د سولې پروسې د بیا پیلېدو او د دوه‌اړخیزو اړیکو د ښه کېدو لپاره بیا هیلې راوټوکولې.

دلته باید یوه یادونه وکړو، چې دغه لیدنې کتنې، کنفرانسونه په لنډمهالې توګه د دوه‌اړخیزو اړیکو په رغولو کې رول لوبولی شي؛ خو په منځ‌مهال او اوږده‌مهال کې د افغانستان او پاکستان اړیکې تر ډېره د سولې پروسې په بریالیتوب او په افغانستان کې له ثبات سره تړلې دي او هر کله به چې پاکستان په خپلو ژمنو کې بیا پاتې راشي؛ دا دوه‌اړخیزې اړیکې به په اتومات ډول خرابې شي او ترڅنګ به یې د بل ځل باور جوړولو پروسه هم، له ډېرو ننګونو سره مخ کړي.

# تغییر اقلیم؛ گرما زمین را به کجا خواهد برد؟




کنفرانس تغییر اقلیم در پاریس که با شرکت سران و نمایندگان 195 کشور و سازمان بین‌المللی در پاریس تدویر یافت، تکرار هشدارهایی است که از دهها سال بدین‌سو در مورد خطرات ناشی از بلند رفتن گرمای زمین داده می‌شود. هشدار اینکه ساکنان این کرهٔ خاکی با استفادهٔ بیش از حد از منابع آن، این کرهٔ خاکی و موجوداتی را که در آن زندگی می‌کنند، با چالش‌های خطرناکی مواجه ساخته اند که می‌تواند حتی نابود کننده باشد.

انقلاب صنعتی در قرن هجدهم اگر از یک طرف زندگی بشر را از بنیاد تغییر داد و فرصت‌های جدیدی را برای ساکنان این سیاره به ارمغان آورد، از جانب دیگر موجب تغییرات تدریجی ناگوار بر محیط زیست بشر و سایر جانداران گردید. امروز ما به جایی رسیده‌ایم که فرانسوا اولاند رئیس جمهور فرانسه در سخنرانی افتتاحیهٔ خویش در کنفرانس تغییرات اقلیمی در پالیس گفت که کرهٔ زمین تا کنون با چنین چالش بزرگی مواجه نبوده است.

در کنفرانس تغییرات اقلیم در پاریس، کشورهای ویرانگر محیط زیست یعنی کشورهایی که افزایش گرمای زمین با سیاست‌های اقتصادی آنان رابطه دارد، هیچ تعهدی برای تغییر جدی در وضع، ارائه ننمودند و این وضع قابل پیشبینی بود.

## دلایل گرم شدن زمین و تاثیرات آن بر محیط زیست

دانشمندان دهها سال قبل از تاثیرات مخرب گاز "کاربن دای اکساید" بر جو زمین، هشدار داده بودند اما کشورهای صنعتی، آنرا جدی نگرفتند. گاز کاربن دای اکساید از سوختن مواد انرژی‌زای فوسیلی به هوا متصاعد گردیده از یک

طرف مانع رسیدن اشعۀ خورشید با طول موج بلند به زمین می‌گردد و از جانب دیگر این گازات در جو زمین حبس می گردند که به کاهش وزش باد انجامیده، گرمای زمین را موجب می گردند.

اشعۀ آفتاب نقش حیاتی در کنترول اقلیم زمین دارد که نه تنها گرمای زمین ناشی از آن است بلکه در متعادل نگهداشتن گرما نیز نقشی حیاتی دارد، اما بشر از قرن هجدهم به بعد با تصرف بیش از حد در طبیعت به این تعادل زیان‌های غیر قابل جبران، رسانیده است.

خطر بزرگ این است که در طول حدود 30 سال گذشته، کشورهای جدیدی مانند چین و هندوستان قدم به عرصۀ صنعتی شدن نهاده‌اند. در این کشورها مصرف سوخت مواد فوسیلی برای انکشاف صنعت غیرقابل اجتناب است. از جانب دیگر رقابت میان این قدرت‌های جدید و قدرت‌های صنعتی قدیم در غرب نیز موجب می‌گردد تا در قسمت کنترول گازهای گلخانه‌ای اقدامات جدی صورت نگیرد و همین موضوع، آیندۀ نسل بسر را به خطرات جدی مواجه ساخته است.

رشد نفوس و محدود بودن امکانات ازدیاد تولید مواد غذایی موجب شده تا بخش بزرگی از جنگلات در روی کرۀ زمین از بین رفته و مبدل به زمین زراعتی گردد و امکان جذب کاربن دای اکساید از هوا کاهش یابد.

## عکس العمل زمین

انسان به عنوان عامل اصلی تغییر در اقلیم، با طبیعت درافتاده است و طبیعت نیز گاهی در برابر آن به مقاومت می‌پردازد و گاهی نیز با هشدار به ما گوشزد می‌نماید که خطر بسیار جدی است. طوفان‌های بزرگ مانند طوفان کاترینا در امریکا، بارش‌های شدید بی‌موقع، آتش‌سوزی در جنگلات، از میان رفتن یخچال‌های طبیعی هشدارهایی است که طبیعت به انسان می‌دهد، اما انسان‌ها هنوز هم این هشدارها را جدی نمی‌گیرند.

## پیمان کیوتو

در سال 1997 نمایندگان 160 کشور جهان در جاپان گردهم آمدند و "پیمان کیوتو" را به منظور کاهش روند گرم شدن کرۀ زمین به تصویب رسانیدند. در این پیمان از 36 کشور صنعتی جهان خواسته شده بود تا در سال 2012 میزان گازهای گلخانه‌ای خود را به صورت اوسط به 5 درصد کمتر از تولید سال 1990 برسانند. اما در پیمان آمده

بود که اجرای این پیمان زمانی روی دست گرفته خواهد شد که اعضای آن به حدی برسند که مجموعا 55 درصد از مجموع گازهای گلخانه‌ای جهان را تولید نمایند. این کار زمانیکه فدراسیون روسیه به پیمان کیوتو پیوست، تحقق یافت.

## امریکا، مسؤول اما مسؤولیت ناپذیر

اما امریکا یگانه کشور صنعتی است که پیمان کیوتو را عملی نکرده است. از نظر سیاستمداران امریکا که وابسته به صنایع بزرگ و شرکت‌های نفتی اند، کاهش گازهای گلخانه‌ای در این کشور به معنی کاهش رشد اقتصادی، بی‌کاری ملیون‌ها نفر و خسارات بزرگ مالی به سرمایه‌داران خواهد بود.

امریکا کشوری است که با 25 درصد تولید گاز گلخانه‌ای، بزرگترین تخریب کنندۀ محیط زیست در جهان بوده و چین با حدود 15 درصد گاز گلخانه‌ای، دومین کشور تولید کنندۀ این گاز در سطح جهان است. در امریکا هر توافقی تا به تصویب کنگره نرسد، الزامیت قانونی به میان نمی‌آورد و طبق قوانین فدرال ایالات متحدۀ امریکا، گاز کاربن دای اکساید گاز گلخانه‌ای به شمار نمی‌آید.

در ماه اگست، اوباما اعلام کرد که پلان جدیدی را روی دست دارد تا سطح تولید گاز کاربن را تا 2030 سی و دو درصد پایین‌تر از 2005 بسازد و تولید انرژی از منابع قابل جبران مانند باد و آفتاب را به 28 درصد تولید تمام انرژی در کشور برساند، اما همه دولتمردان در امریکا به کنترول گرمایش زمین باور ندارند و حتی منکر علمی بودن این مسئلۀ کاملا قبول‌شده می‌باشند.

دونالد ترمپ تاجر مشهور و نامزد پیشتاز حزب جمهوری‌خواه در انتخابات سال 2016 ریاست جمهوری امریکا می‌گوید که نه به تغییر اقلیم باور دارد و نه هم آنرا مشکل ایالات متحده می‌داند. او می‌گوید که وقتی چین و کشورهای دیگر در این مورد هیچ کاری نمی‌کنند و مفکورۀ گرمی کرۀ زمین به این دلیل ابداع شده است تا امریکا در رقابت صنعتی با چین ضربه بخورد.

سناتور تد کروز از ایالت تکزاس نیز به همین باور است و این مفکورۀ علمی که زمین در اثر اشتباهات انسانی در حال گرم شدن است، نمی‌پذیرد. سناتور مارکو روبیو از فلوریدا که در نظرپرسی‌های اخیر، نامزد سوم پیشتاز است

می‌گوید که مقابله با تغییر اقلیم نباید به بهای ضربه زدن به اقتصاد تمام شود. آقای روبیو یادآوری کرده است که چین از لحاظ تولید گاز کاربن دای اکساید در راس جهان قرار دارد و او نمی‌خواهد تا برای کمپنی‌های امریکایی در خلق کردن زمینهٔ کار، وضع را دشوارتر بسازد در حالیکه ادارهٔ اوباما برای تغییر اقلیم کدام پلان خاصی نداشته است.

اما سناتور برنی ساندرس از حزب دیموکرات می‌گوید که تا زمانیکه مصارف کمپاین انتخاباتی جمهوری‌خواهان را کمپنی‌های انرژی فوسیلی (نفتی) می‌پردازند، مشکل خواهد بود تا علیه گازهای گلخانه‌ای در امریکا اقدامی موثر صورت گیرد.

## تاثیر تغییر اقلیم بر افغانستان

کشورهای فقیر و مستمند قربانیان بزرگ تغییرات اقلیمی در جهان اند در حالیکه خود شان در این روند کمترین نقش را داشته اند. سیلاب‌ها و خشک‌سالی‌های پیهم به خصوص در نیم قرن اخیر، از مصیبت‌هایی است که کشورهای جهان سوم به خصوص با آن مواجه بوده‌اند.

افغانستان کشوری کوهستانی است که طبیعت این کشور بین جنوب و وسط آسیا نقش مهمی در تعادل اقلیمی به دوش داشته است. کوهستان‌های افغانستان در فصل زمستان منبع ذخیرهٔ برف بوده که آب شدن آن در تابستان، رودخانه‌های خروشانی را پدید می‌آورد. در حقیقت این سلسله کوه‌ها حیثیت تانکر ذخیرهٔ آب و نیز فلتر تصفیهٔ هوا برای کشورهای همسایه را نیز دارد. (به عنوان مثال بادهایی که در فصل خاصی از سال در بلوچستان پاکستان می‌وزد و موجب تغییر هوا می‌گردد، در میان مردم به بادهای قندهاری شهرت دارد و بادهایی که به مدت 120 روز در سال در غرب افغانستان می‌وزد، مناطق شرق ایران را نیز تحت تاثیر قرار می‌دهد.) به همین دلیل اشرف غنی رئیس جمهور افغانستان در کنفرانس تغییرات اقلیم در پاریس گفت: "مسیر انکشافی افغانستان باعث افزایش استفاده از سوخت‌های کاربنی نشده، بلکه روند کاهش گازهای گلخانه‌ای را در کشورهای همسایه از جمله هند و پاکستان نیز پیش می‌برد".

اما تبعات منفی گرمایش زمین در افغانستان را می‌توان با مقایسهٔ اقلیم زمان حاضر با چند دهه قبل به خوبی دریافت. در دههٔ 50 و 60 قرن گذشته در اثر برف‌باری‌های زمستان، ارتفاع برف در کوچه‌های کابل قدیم به بیش از دو متر می‌رسید که رفت وآمد با پای پیاده نیز به مشکل مواجه می‌شد اما اکنون ده‌ها سال است که کابل شاهد

چنین برف‌باری نبوده است. گرمی هوا موجب شده تا اکنون در زمستان‌ها کمتر شاهد ریزش برف و بیشتر شاهد باریدن باران باشیم. ضرب‌المثل قدیمی که می‌گفت "کابل بی‌زر باشد بی‌برف نباشد" اکنون دیگر مصداق عملی ندارد. این وضع در سراسر افغانستان قابل دقت است.

افغانستان در گذشته نیز شاهد دوره‌هایی از خشک‌سالی بوده است که گاهی بعد از هشت تا ده سال تکرار می‌شد، اما در طول حدود نیم قرن اخیر این دوره‌ها حتی به 4 سال نیز کاهش یافته است. از آنجایی که بخش بزرگی از گندم افغانستان در گذشته از زمین‌های للمی یا دیمه به دست می‌آمد، اکنون افغانستان وابسته به واردات گندم از خارج است.

بعضی از دانشمندان در تحقیقات شان حتی به این نتیجه رسیده‌اند که گرمایش زمین می‌تواند به میان آمدن آتشفشان‌ها و وقوع زلزله را نیز تسهیل نماید. در طول چهار دهۀ گذشته افغانستان و کشورهای همسایه شاهد زلزله‌های زیادی بوده‌اند که در مقایسه با دهه‌های قبل افزایش قابل توجه را نشان می‌دهد. هرچند در مورد نقش گرمایش زمین در زلزله اختلاف وجود دارد، اما زلزله‌ای با شدت 7.5 درجۀ ریشتر که مدتی قبل رخ داد، در طول قرن‌ها در افغانستان بی‌سابقه بوده است. این وقایع را نمی‌توان فقط ناشی از تصادف به شمار آورد.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارۀ تماس دفتر: 784089590 (+93)

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: 789316120 (+93) abdulbaqi123@hotmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: 775454048 (+93) hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.